**د امریکا د بهرنیو چارو وزیر او د سعودي عربستان ولیهد: ایران دښمن دی، نه د اسراییلو رژیم!**



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ۲۰۱۸ میلادي کال د اپرېل پر ۲۹ مه یو بهرني سفر په ترڅ کې سعودي عربستان، د یهودو دولت او اردن ته ولاړ. له دغو لیدنو څخه دې پایلې ته رسېږو چې امریکا د لاندې چارو په لټه کې ده: ایران یو ګواښوونکی هېواد ښودل او له حقیقي دښمنه (د یهودو له دولت) څخه لېرې کول، له یهودو دولت سره خبرو ته رابلل، پر مخالفینو یې د یهودو د دولت د شرطونو ورتپل او د سیمه ییزو مزدورانو له لارې په سیمه کې د یو خپلواک دولت په توګه د یهودو د دولت پېژندل. دا همغه سیاست دی چې تېر کال د امریکا ولسمشر ټرامپ سعودي عربستان ته تر سفر وروسته په پام کې نیولی او خپل کړی دی.

امریکا خپل دغه سیاست د ۵۵ هېوادونو پر استازو چې ښکېلاکګرو یې په اسلامي خاورو کې ټاکلي دي، ورتپلی دی. لکه څنګه چې د امریکا ولسمشر د ۲۰۱۷ میلادي کال د مې پر ۲۱مه دغه هېوادونه سره راټول کړل او په بیانیه کې یې وویل: «اصلي دښمن او ګواښ ایران دی». نوموړي له ایران سره د مخ کېدو او مقابلې ستراتیژي مطرح کړه. په داسې حال کې چې ایران هم د امریکا په ټاکل شوي مدار کې په خوځښت کې دی او ایراني چارواکو په عراق او افغانستان کې د امریکایي اشغال او شتون د دوام لپاره خپلې هڅې ومنلې او اوس په سوریه کې د امریکا د نفوذ ساتلو لپاره هڅې کوي. څنګه چې د سوریې له خلکو سره، چې د بشار اسد د سېکولر نظام د له منځه تلو هڅې کوي، جګړه کوي. د امریکا د بهرینو چارو

وزير د دغه بيان په څرګندولو سره چې ګواکې موږ د ايران پر وړاندې د پرانيستې ستراتيژۍ په هڅو کې يو، غواړي چې د امريکا جنايتونه او حقيقتونه پټ کړي.

له دې سره پر يو وخت د يهودو دولت ۱۰ تلويزيوني کانال د ۲۰۱۸ ميلادي کال د اپرېل پر ۲۹ مه د محمد بن سلمان هغه څرګندونې خپرې کړې چې په امريکا کې يې د يهودو له ځينو سازمانونو سره درلودې. په دغو څرګندونو کې راغلي دي: «نېږدې ۴۰ کلونه کيږي چې د فلسطينيانو رهبر موکې او فرصتونه له لاسه ورکوي او ټول وړاندې شوي وړانديزونه يې رد کړي دي. اوس د دې وخت رارسېدلی چې فلسطينيان وړاندې شوي وړانديزيونه ومني او د خبرو اترو مېز ته چمتو شي؛ يا دا چې چوپتيا غوره کړي او له شکايتونو لاس واخلي». نوموړي پخپلو خبرو کې زياته کړه: «د فلسطين قضيه د سعودي عربستان د خلکو لومړيتوبونه نه دي، بلکې تر دې هم مهمې قضيې شته چې پام ورته وشي، لکه د ايران قضيه».

سعودي عربستان ته ايران د دې لپاره دښمن دی تر څو د يهودو دولت له لوري د فلسطين د غصب هغه خيانت پټ کړي چې د فلسطين د مظلمو خلکو پر وړاندې يې تر سره کړی او هغوی يې يوازې پرېښې دي. لکه څنګه يې چې د خپلو خبرو په دوام کې وويل: «پر دې ټولو سربېره، وړاندې تر دې چې له اسراييلو سره د سعودي عربستان او نورو عربي هېوادونو د اړيکو جوړېدو لپاره کار وکړو، لازمه ده چې له فلسطينيانو سره رښتنې پرمختګ ولرو.» په دې مانا چې نوموړی د يهودو له دولت سره د اړيکو په عادي کولو په ښکاره د خيانت مرتکب نه شي کېدای؛ خو دا چې په خبرو اترو کې د يهودو دولت له دښمن (فلسطين) سره پرمختګ وشي او هغه څه چې د يهودو دولت يې غواړي، ورته وسپارل شي.

له بل لوري، د فلسطين رهبر له ۴۰ کلونو راپدېخوا لوی خيانتونه تر سره کړي دي او څه چې امريکا او د يهودو دولت له نوموړي غوښتي دي، له ولې او څنګه پرته يې منلي دي. د نوموړي د خيانت ښکاره نښه د يهودو دولت په رسميت پېژندل او د فلسطين د ۲۰ سلنه خاورې په ورکړې بسنه کول دي. خو ځينې نور موارد هم شته چې يهوديان يې غوښتنه کوي او د فلسطين رهبران شايد هغه ومني لکه، له قدسه د فلسطينيانو لاس اخيستل.

**منيب حميدي**

ژباړه: بهير «ويار»